# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

## AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبــــاد        بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم        از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com        www.afgazad.com

| سیاسی | Political |
|---|---|


نشریه پیشرو شماره ۴۵

۲۹ نومبر ۲۰۱۲

## ښاغلی ښاروال،

## دارالامان په هغه جوړ کړه چې وران کړی یې دی!

په تیرو وروستیو میاشتو کې یو وار بیا د کابل ښاروال نواندیش د دارالامان مانۍ د جوړولو خبره راپورته کړې او د کابل له ښاریانو څخه یې غوښتلي چې د نوموړې مانۍ په جوړولو کې برخه واخلي.

ښاغلی ښاروال! اول خو دارالامان مه جوړوه (ته یې جوړولی هم نشې)، ځکه دغه ودانۍ باید د هغو بنسټپالو تنظیمونو د ویجاړیو د یادګار په توګه وساتل شي چې له شرم او ننګ پرته همدا اوس هم د خلکو پر اوږو سپاره دي او د اتلولۍ، میراني او د هیواد د بیارغوني ادعا کوي؛ او که بیا یې د جوړولو اراده لرې په هغه چا یې جوړه کړه چې د قدرت د نیولو لپاره په جګړه کې یې دغه مانۍ او د کابل نورې سیمې په کنډواله بدلې کړې دي. لږ تر لږه دومره جرئت وکړه او ولاړ شه د تنظیمونو له هغو رهبرانو او یا د هغوی له کورنیو څخه پیسې واخله چې دغه مانۍ یې ویجاړه کړې او د لوټمارۍ، غلا، ویجاړولو او د هیواد پلورنې له «برکته» یې سلګونه میلیونه ډالره تر لاسه کړې دي.



له کابل ښاریانو څخه د ښاغلي ښاروال دغه غوښتنه په حقیقت کې د کابلیانو پر ټپي او دردیدلي زړونو د مالګې دوړول دي. د دارالامان مانۍ ساتل له څو اړخونو اهمیت لري. لومړی، زموږ د تاریخ یوه تر ټولو ترخه او توره پاڼه راتلونکو نسلونو ته انتقالوي چې د هیواد پلورنې، خیانت او جنایت وروستۍ کچه په ډاګوي. دویم، د دغه مانۍ او د کابل ښار او په مجموع کې د افغانستان د نورو سیمو ویجاړونکي تر څو چې ژوندي دي، باید د دې مانۍ په ساتلو سره د یوې شیبې لپاره هم که وي، د وجدان عذاب ووینې. او دریم، د مانۍ په جوړولو سره زموږ د تاریخ یوه برخه له منځه ځي چې هغه د خاینو جهادي تنظیمونو د بربادۍ، انسان وژنې، لوټ، تالان، تیري، غلا، شکنجې، ویجاړۍ، سترګې ویستل، پر سر میخ ټکول، د مړي نڅا، د ښځو سینې پرې کول، وحشت او... سره جوخت تړاو لري.



د ۱۹۴۵ کال په دویمی نړیوالی جګړې کې د اګست په شپږمه نیټه امریکایي څواکونو پر هیروشیما ښار د نړۍ لومړنی اټمي بم وغورځاوه چې په ترڅ کې یې ۵۰۰۰۰ انسانان د سترګو په رپ کې ایره شول او د کال تر پایه ۹۰۰۰۰ نورو خپل ژوند له لاسه ورکړ. دا د نړۍ تر ټولو ستر جنایت و. له دغې پیښې وروسته د هیروشیما اوسیدونکو د امریکا د دغه ستر جنایت د نه هیریدو په موخه، هغه مانۍ (ای بامب ډوم) چې له اټمي بم څخه تر یوې اندازې جوړه پاتې شوې وه، تر اوسه ساتلې څو راتلونکي نسلونه د جاپان د تاریخ یوه ویرجنه برخه هیره نکړي او راتلونکي نسلونه د امریکا ستر جنایت له یاده ونه باسي.

د دارالامان مانۍ هم باید د هیروشیما د «ای بامب ډوم» په څیر وساتل شي، څو راتلونکي نسلونه د خاینو بنسټپالو تنظیمونو د جنایت او خیانت توره څیره په یاد وساتي.